# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد

همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
|---|---|



برت واکس

ژباړه: فرهاد ویاړ


# د دوزخ لاره

سپین پوستکي کارګر هغه ښځې ته چې تر څنګ يې ودريدلې وه، وويل:
زه له تاسو ټولو ښه يم
له ما څخه نيم ګز کښته ودريږه
چې نړۍ زما غرور وګوري.
سپین پوستکي ښځې د خپل تر څنګ تورپوستکي سړي ته وويل:
له هغې وروسته زه له ټوله ښه يمه
ته هم له ما څخه نيم ګز کښته ودريږه
چې خلک پوه شي چې ښځې هم غرور لري.
تورپوستکي سړي تورپوستکي ښځې ته مخ واړو او وی ویل:
ته ولې نيم ګز کښته نه ودريږې
بالاخره ما ته هم يو څه غرور پاتې دی.
تورپوستکي ښځې دورګه سړي ته وکتلې چې ويل يې:
خپل ځای دی وپيژنه
ځکه چې زما غرور هم بايد وساتل شي
او په دې ډول درجه بندی ادامه وموندله
سيوري په سيوري، مخ په کښته
څو چې د انسانيت پوړی رامنځته شوه
د هغې په وړاندې چې د بصيرت سترګې لري.
او د دې پوړۍ پر سر، له ټولو اوچت
اوه رنګه پانګوال ودريد
په ډير غضبناکتيا
خو له مهرباني ځيري او مسکيدلو شوندو سره
او مخ په لوړه يې ګام واخيست
لوړ لاړ، لوړ لاړ
او ګامونه يې د دروندوالي او برم له پړواکه ډک و
او لوړې ته ورسيد او
د سپين پوستکي کارګر پر سر يې پښه کيښوده او هملته ودريد.